مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجی محمد نوزادي

۲۰۱۸/۰۳/۳۱

# «کلتور» که «ښکارهنګ»؟

څو ورځي وړاندي مي په nahimi.dk سایټ کي د محترم انجینر داؤد اخګ صاحب په غښتلي قلم تر «**د کلتور لپاره ښایسته او پښتنه کلیمه ( ښکارهنګ ) ده**» سرلیک لاندي یوې لیکني ته پام واوښت .
داچي زه پدې وروستیو کي د پښتو ګړدود او لیکدود ، خو په ځانګړي توګه په اوسني شرایطو کی د لیکدود په اړه چي ورځ تر بلي په میډیا اوپه تیره بیا په فیسبوکي بحثونو کي دسنتدړد او معیار څخه واټن نیسي ، د سخت تشویش سره مخامخ یم،لوړ سرلیک راته په زړه پوري و ایسیدی او سمدستي یي په لوستلو لګیا شوم . د خدای حق خبره خو داده چي اخګ صاحب هلته ډیر په زړه پوری مالومات وړاندی کړیدي .

څه موده وړاندي دلته په ډنمارک کي و یوه سیمینار ته بلل شوی وم چي د مورنۍ ژبي د نړیوالي ورځي د لمانځلو پخاطر د ملی تحریک په نوښت د ډنمارک میشتو افغانانو لخوا جوړ شوی وو . په سیمینار کي مي په پښتو ژبي کی د لیکدود او ګړدود د ستونزو په اړه خپله یوه لیکنه ولوستل . دا چي لیکنه هلته د اوریدونکو په ښه هرکلی سره بدرګه شوه ، ځکه مي وروروسته د افغاني برېښناپاڼو د لاري په درو برخو او په خپله فیسبوکپاڼه کي مي په پنځو برخو کی خبره کړه . ما پخپلي دغي لیکني کي په پښتو کي د علمي نیولوجیزم ( نوی لغات جوړوني ) په هکله هم د خپل توان په کچه اړین مالومات وړاندی کړی وو . مینه وال کولای شي په افغان ـ جرمن سایټ کي یې زما په ارشیف او یا زما په فیسبوکپاڼه کي ولولي .

ښایي په همدې خاطر به وو چي د اخګ صاحب لیکني مي پام ځانته واړاوه . که څه هم هلته د نیولوجیزم یادوونه نده شوی خو « ښکارهنګ» دده په نظر د « کلتور » د پاره ډیره مناسبه ، ښایسته او پښتنه کلمه بریښیدلی ده چي دا پخپله د نیولوجیزم پروسه ده . د « کلتور » د تعریف څخه به تیر شو ، ځکه چي ټولمنلی تعریف یې تر اوسه ندی موندل شوی او لکه اخګ صاحب چي وایي په اروپایي ادبیاتو کي د کلتور د پاره تقریبا دوه سوه تعریفه وړاندي شوی دي . زه ددي خبری سره مخالفت نلرم چي د ښکارهنګ کلمه به ښایسته وي . دا هم یوه اړتیا بولم چي باید د نیولوجیزم نه کار واخیستل شي څو پښتو ته نوي اړیني کلمی و لټولي شي . خوددی کار سره بیا همږغی نه یم چی هر غیر پښتو لغات ته د نوو کلمو پسې و ګرځو . د همدغه لامل پر بنسټ ماته د « کلتور » د پآره چي ریښه یې پښتنه نده ، د بل پښتو لغات لټول اړین نه بریښي . کلتور چي په انګریزي او نور پرمختللو اروپایي ژبو کي کارول کیږي ، ددوی خپله کلمه نده او د لاتین څخه یې اخیستې ده . کله چي انګریزي غوندي پیاوړې ژبه پردي کلمي منلای شی ، بیا نو پښتو خو ددغه ډول کلمو منلو ته ډیره اړتیا لري .

لکه څنګه چي ما په خپلو تیرو لیکنو کي یادوونه کړې ، نیولوجیزم ته کیدلای شی د دوو اړخونو څخه و کتل شي . یو داچي د علم او تخنیک د پرمختګ سره سم باید د نوو رامنځته شوو لغاتو یا اصطلاح ګانو د پاره په پښتو ژبه کي اړوند انډول لغاتونه و لټول شی لکه د **ایمیل** د پاره **« بریښنالیک »** . زه پخپله د ټولو هغو نومونو او اصطلاح ګانو د پاره د پښتو لغاتونو د لټولو سره همږغی نه یم چي د علم او تخنیک په برکت باید ژبي ور ننوځي . داسی په نړیواله کچه منل شوی اصطلاح ګاني نه یوازي داچي ژبه نه کمزورې کوي ، بلکه بډایه کوي یې . ددې خبري ترڅنګ دا هم اړینه ګڼم چي د هغو موجودو غیر پښتو **( دخیلو لغاتونو )** او یا **( پور شوو لغاتونو )** د پاره یو موزون پښتو لغات و لټول شی چي د علم او تخنیک د پرمختګ جبر یې لامل ندی . دا ځکه چي پښتو ژبي یو وخت د خپلي ټیټي وبیپانګي د لوړولو په موخه دا ډول لغاتونه د خپلو بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو پخاطر د مجبورۍ او بیوسۍ له مخي د نورو ژبو څخه چي لاسرسۍ یې ورته درلود ، پور کړي وه . دا مهال چي هغه بیوسي تر زیاتي کچي له منځه تللی ده ، پکار ده پدې پوه شوو چي پردی کټ تر نیمو شپو وي ، ځکه نو باید د هغوی انډول داسی پښتو لغاتونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د نيولوجيزم په مټ را پيدا او و کارول شي چي د نوموړي غيرپښتو لغات د پاره يو صلاحيت لرونکی ځاياستي وشي او قبوله شوی مانا يې هم په يوه په زړه پوری ډ‌ول سره څرګنده کړای شي .

دا چي زه په مسلکي ډ‌ول ادبپوه نه بلکه د کانپوهني شاګرد يم ، ځکه نو د « کلتور » د پاره د « ښکارهنګ » د چورلټ ردولو صلاحيت نلرم ، له همدې کبله مې پدې هکله ددغي څانګي د ماهر ، اديب ، ليکوال او د هيواد وتلی څيړونکي ، محمد معصوم هوتک صاحب نه پوښتنه وکړه . هوتک صاحب د ايميل ( بريښناليک ) د لاری لاندي ليک را وليږه :

«محترم نوزادي صاحب
سلامونه او درناوی
ما د ښاغلي داود اڅک ليکنه وکتله. زه پخپله له دغه راز جوړونو سره جوړ نه يم. يوې ژبې ته چي کله له بلې ژبې څخه يو لغت راننوزي او د ژبې ويونکي ئې ومني، يعني وئې لولي، وئې وايي، وئې ليکي. دا لغت نو د ژبې خپل مال سي په ادې و بابا پسي ئې څوک نه ګرزی او خپل لغت ئې ګڼي. اولس له تورکي ژبې څخه زموږ ژبې ته ننوتی دئ اوس زموږ په ژبه کې داسي منل سوی دئ چي د پردي لغت خيال لا نه پر کوو. کلتور هم زموږ په ژبه کي عام سوی لغت دئ او د ايسته کولو اړتيا ئې دومره جدي نه ده. ددغه عام لغت پر ځای نوی لغت جوړول د ژبې د ويونکو دوه رازه انرژي ضايع کوي. يوه ئې د نوي لغت د زده کولو انرژي ده او بله ئې د زاړه لغت د هېرولو انرژي. تاسي ته معلومه ده چي په ژبه کي د هېرولو عمليه تر زده کولو زياته انرژي غواړي په دې معنی چي د يوه لغت زده کول اسانه دي خو هېرول ئې ډېر وخت غواړي. په تېره بيا دداسي لغت هېرول چي هغه په نورو ژبو کي د پراخ استعمال قوت هم ولري. د کلتور له پاره يو وخت وزير صاحب محمدګل مومند د ( هڅوب) کلمه جوړه کړه. دده په نظر کلتور داسي تعريف درلود چي ( هغه څه چي ولسونه سره بېلوي) ددغه تعريف له کلماتو څخه ئې ( هـ، څ، و، ب) راواخيستله او هڅوب ئې وزېږاوه . خو عام ځکه نسو چي د کلتور عموميت پر پياوړی وو او هېرولو ته ئې چا زړه ښه نه کړ. که فرضا په ژبه کي د يوه لغت د جوړولو اړتيا رامنځ ته سي نو د لغت جوړوونکو ته په کار ده چي د لغت تر عامېدلو پخوا يو نوم ورته وټاکي. په ټاکلو کي بايد د ژبې د ټولو لهجو د ويونکو ستونزي په پام کي ونيسي. د (ښکارهنګ)کلمې د سر دوه اوازونه (ښ، ک) په ځينو لهجو کي ( خ، ک) تلفظ کيږي. ددغو دوو څنګ پرڅنګ قريب المخرجو اوازو تلفظ هغوی ته سخت دئ. په تېره بيا که په يوه داسي لغت کي دا دوه اوازونه څنګ پرڅنګ راسي چي تر يوې څپې (هجا) زيات وي. په دغه شان څو څپه ييزو لغتو کي هغوی ددغو دوو اوازو څخه يو حذف کوي. مثال ئې کښېنستل دي چي هغوی ئې کښنستل تلفظ کوي. بل مثال ئې بخښل دئ چي هغوی ئې بخل تلفظ غوره بولي. البته که لغت يوه څپه وي، بيا ئې نو ستونزه ډېره نه ده. ښکار او خکار دواړه د تلفظ ستونزه نه لري،نو د نوي لغت په جوړولو کي بايد ددغو خلکو ستونزه هم په پام کي ونيول سي. په ښکارهنګ کي د (ښ، ک) څنګ پر څنګ راتګ او هغه هم په دوه څپه يي لغت کي د يوه اواز د حذف له خطر سره مخامخ کيږي. دا خطر ئې که څه هم کمزوری دئ خو احتمال ئې سته. نو په نوو جوړونو کي بايد حتی الوسع کوښښ وسي چي د هغو آوازو له راوړلو څخه ډډه وسي چي د ژبې ويونکي ئې په دوه رازه تلفظ کوي. خبري راڅخه اوږدې سوې. زه د کلتور خوره ،نړيواله او زموږ په ژبه کي عامه سوې کلمه په يوه بله نابلده جنجالي کلمه باندی اړول لازمه نه ګڼم خو ځانته دا حق هم نه ورکوم چي د نورو نظرونه ناسم وبولم. -
په درناوي
هوتک »

د لوړو علمي يادوونو له مخې، اوس ستاسي خوښه، «کلتور» که «ښکارهنګ»؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ